PROPERTY OF ACKU


# DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۶۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۶۶ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۴۱ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غبرګولي ۲۹ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق رجب ۱۸ مه د ۲۰۱۱ د جون ۱۹ مه


## دکابل په زړه کې پر لومړی امنیتي حوزې خونړي برید د خلکو اندېښنې راپارولې

د کورنیو چارو وزارت وایي، چې د کابل ښار پر لومړی امنیتي حوزې باندې د برید په پایله کې درې برید کوونکي، څلور امنیتي ځواکونه او پنځه ملکي کسان وژل شوي او ۱۲ تنه نور ټپیان دي.

دغه بریدونه پرون (د غبرګولي ۲۸مه) له غرمې وروسته نږدې یوه نیمه بجه، د منډوي په کوڅه کې پر لومړی امنیتي حوزې ترسره شو.

په هڅې خبرپاڼې کې چې پرون مازیګر ۳مخ

# د بن راتلونکې غونډه او د افغان حکومت احتمالي دریځ

لس کاله وړاندې د بن غونډه وشوه، دا غونډه د نړیوالې ټولنې او امریکا په مشرۍ د بن په ښار کې وشوه، چې له مخې یې په افغانستان کې لومړی لنډمهاله اداره جوړه شوه او د دې اداري په چوکاټ کې د ازادو او بې پرې ټاکنو لپاره زمینه برابره او بلاخره ټاکنې ترسره او حامد کرزی د افغانستان منتخب ولسمشر وټاکل شو، چې تر لومړی دورې تېرولو وروسته یې اوس دادی دویمه دوره هم روانه ده. د بن د غونډې اصلي هدف هم په افغانستان کې د هغه مهال د رواني وضعې کنټرول او افغانستان له یوه بحراني حالته را ایستل او په دې هېواد کې ترور ېزم ته د پای ټکی ایښوول او بلاخره په افغانستان کې یو مستقل حکومت جوړول وو. خو دا چې اوس یو ځل بیا د بن غونډه جوړېږي او افغانستان به په کې خپلې راتلونکې طرحې او وړاندیزونه مطرح کوي او همدشان ترڅنګ به یې د افغانستان د روانو حالاتو، پرمختیاوو، نیمګړتیاوو، ګوابښ وکړ، چې که د بن جوړېدونکي کنفرانس ته افغانان په متفرق ډول وروبلل شي، نو د افغانستان حکومت به په کې ګډون ونه کړي.

وړاندیزونو څېړنه او ارزونه کېږي او په دې هکله به نوي او تازه تصمیمونه او پرېکړې کېږي، افغان حکومت په کې په مشروط ډول د ګډون دریځ اعلان کړی دی.

ولسمشر کرزي په دې هکله ټاکل شوې ده، چې د افغانستان لپاره د بن دویم نړیوال ۳مخ

## سکوت پارلمان برای رییس جمهور بی اهمیت است؟!

**رییس جمهور کرزی بند یازدهم مادۀ ۶۴ و بعضی مواد دیگر را به حالت تعلیق درآورده است. وی باید مورد بازپرسی پارلمان قرار گیرد و جواب نماینده گان را در این راستا بدهد.**

**نماینده گان مردم در پارلمان اظهار داشتند که مطابق مادۀ ۶۹ قانون اساسی در پارلمان، رییس جمهور کرزی، باید در برابر وظایف خود مسوول بوده و صلاحیت های خود را مدنظر بگیرد، اما حامد کرزی بند یازدهم مادۀ ۶۴ و بعضی مواد دیگر را به حالت تعلیق درآورده است. به گفتۀ بکتاش سیاوش، نمایندۀ مردم کابل در پارلمان، رییس جمهور باید مورد بازپرسی پارلمان قرار گیرد و جواب نماینده گان را در این راستا بدهد.**

**بکتاش سیاوش افزود، ظاهرا سکوت اعضای پارلمان برای وی بی اهمیت است، پس باید راه حلی مطابق با قانون اساسی جستجو کرد و حامد کرزی را به پارلمان خواست. نمایندۀ مردم کابل بیان کرد، انجام قانون اساسی وثیقۀ ملی مردم افغان است و کسی که وثیقۀ**



**ملی مردم افغان را به حالت تعلیق درآورد، باید مطابق با قانون اساسی با وی برخورد نمود.وی همچنین گفت، سکوت دیگر راه به جایی نمی برد. اگر نماینده گان مردم در پارلمان به فکر ملت شان هستند، باید دست به تظاهرات داخلی زده و جایگاه خود را هم به مردم و هم به رییس جمهور نشان دهند. بکتاش سیاوش، نمایندۀ مردم کابل در پارلمان افزود، باید به دلیل اینکه حامد کرزی اصرار آنان را مبنی بر معرفی باقیماندۀ اعضای پارلمان جدی نگرفته است، باید در این مورد شور شود و تصمیم قاطعی گرفته شود تا اصرار آنان عملی گردد.**

**به گزارش شبکه اطلاع رسانی، همچنان نعیم لالی حمیدزی، نمایندۀ مردم قندهار در پارلمان ص۳**

## په روان زېردي کال کې د وژل شویو بهرنیو سرتېرو شمېره ۲۵۰ تنو ته ورسېده

پرون د وسلوالو طالبانو په مخامخ بریدونو کې د ایساف دوه سرتېري ووژل شول.

په کابل کې د ناټو په مشرۍ د ایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خواد غبرګولي پر ۲۶مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دغه سرتېري یې د افغانستان په سوېل کې وژل شوي دي. په خبرپاڼه کې یاد شوي سرتېري د وسلوالو مخالفینو په ېلا ېلو سیمو کې د مخالفینو په بریدونو کې وژل شوي دي.

خو د ایساف په خبرپاڼه کې د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښو کره ځای نه دی په ګوته شوی. باید وویل شي، چې د افغانستان په سوېل کې ډېری امریکایي، بریتانوي او کانادایي سرتېرې مېشت دي. ورځ هم په سوېلي ولایت هلمند کې دوه بریتانوي سرتېري وژل شوي وو. د پژواک د راپور له مخې، د روان زېردي کال له پیل راهیسې د هېواد په ېلا ېلو سیمو کې د وژل شویو بهرنیو سرتېرو شمېره ۲۵۰ تنو ته ورسېده. تېر کال په هېواد کې ۷۱۱ بهرني سرتېري وژل شوي وو.

## افزایش فشارها بر اوباما برای کاهش چشمگیر سربازان امریکایی در افغانستان

**رهبر اکثریت سنای امریکا اعلام کرد، امریکا در آستانۀ اعلام کاهش چشمگیر حضور نظامی‌اش در افغانستان قرار دارد.**

**سناتور هری رید، رهبر اکثریت سنای امریکا در مصاحبه با شبکه پی. بی. اس گفت: کاهش سطح نیروهای امریکایی در افغانستان در مسیر اصلی خود قرار دارد و مطمین هستم که کاهش این نیروها چشمگیر است.**

**در حال حاضر صدهزار نیروی امریکایی در افغانستان مشغول به انجام وظیفه هستند. همچنین جان ص۳**

## اعتماد به اسلام آباد نتیجه داد؟!!

**پاکستان شاردافیر افغانستان در اسلام آباد را به وزارت امور خارجه فرا خواند.**

**به گزارش خبرگزاری های پاکستانی، تهمینه جانجوا سخنگوی وزارت امور خارجۀ پاکستان، روز گذشته اعلام کرد، دولت این کشور مجنون گلاب شاردافیر افغانستان در اسلام آباد را به وزارت امور خارجه فرا خوانده است.**

**جانجوا افزود، هدف از این اقدام، اعلام اعتراض و نگرانی عمیق اسلام آباد از حملات تندروان به مناطق سرحدی پاکستان در مرز مشترک دو کشور است.**

**مقام های پاکستان می گویند، بیش از ۲۰۰ تن از اعضای طالبان، روز پنجشنبۀ گذشته با حمله به سه روستا در شهر باجور در شمال غرب پاکستان، پنج غیرنظامی از جمله سه زن را کشتند و ۲۵ تن دیگر را نیز زخمی کردند. اوایل ماه جون نیز، حدود ۲۰۰ عضو طالبان به پایگاه نیروهای پولیس پاکستان در روستای شالتالو در ص۳**



پیامدهای گزینش ایمن الظواهری برای جانشینی بن لادن ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

## چراغ سبز شورای امنیت به گروه طالبان

شورای امنیت سازمان ملل متحد دیروز اعلام کرد، فهرست تحریم های طالبان و القاعده را از هم جدا کرده است. این قطعنامه که به اتفاق آراء در شورای امنیت به تصویب رسید گفته می شود، به خاطر ترغیب اعضای گروه طالبان برای پیوستن به روند آشتی ملی، صورت گرفته است.

باید گفت که طالبان و القاعده تاکنون در کمیتهٔ تحریم های شورای امنیت سازمان ملل ، مشترکا مورد تحریم قرار می گرفتند. سوزان رایس نمایندهٔ امریکا در شورای امنیت سازمان ملل نیز گفت، دو قطعنامهٔ جدید ۱۹۸۸ و ۱۹۸۹ شورای امنیت حاوی پیام های روشنی برای گروه طالبان است و بر اساس آن با افرادی که از گروه القاعده جدا شوند، خشونت ها را محکوم کنند و از قانون اساسی افغانستان پیروی کنند، به گونهٔ دیگر برخورد خواهد شد.

به هر حال، اگر شورای امنیت سازمان ملل متحد اکنون به این نتیجه رسیده که دوسیهٔ طالبان افغانستان از دوسیهٔ القاعده جدا مورد بررسی قرار گیرد، این یک واقعیتی است که سال ها قبل، پیش از اینکه این همه قتل و خون، خشونت و ناامنی در افغانستان ادامه یابد، باید مورد بررسی قرار می گرفت؛ اگر این کار در اوایل، یعنی سال ۲۰۰۱ و ۲۰۰۲ صورت می گرفت، شاید اکنون ما شاهد ادامهٔ این همه فجایع و مصیبت ها با ابعاد گستردهٔ آن که طی آن در جریان ده سالی که گذشت، به شمول سربازان خارجی، داخلی و افراد ملکی افغان ده ها هزار کشته، معیوب و معلول شدند، نمی بودیم.

هرچند فرایند تحرکات طالبان و القاعده در برخی موارد همگون می نماید، اما این یک واقعیت است که القاعده یک شبکهٔ جهانی است که ظاهرا خواستار خلافت در سراسر جهان است و به خاطر رسیدن به این هدف، دست به انواع خشونت ها در مناطق گوناگون جهان می زند و منافع غرب را تهدید می نماید، اما گروه طالبان یک گروه افغانی و محلی بوده که در گذشته ها هم داعیهٔ جهانی و بین المللی نداشتند.

حتا در این اواخر، بیانیه ها و اطلاعاتی که در ارتباط قضایای افغانستان و منطقه از آدرس گروه طالبان به دسترس رسانه ها قرار می گیرد، در آنها رنگ محلی و افغانی بارز بوده و هیچ گاه در آن رنگ و بوی جهانی اسلامگرایی ملموس نمی باشد و ماحصل آن به مبارزه به خاطر آزادی کشور خود، فشرده می شود. چنین به نظر می رسید، در حاشیهٔ گفتگوهای مستقیمی که گفته می شود بین طالبان و امریکا صورت گرفته است و این موضوع را مقام های بلندپایهٔ امریکایی و افغانی نیز تایید کرده اند، گروه طالبان و امریکا جهت دستیابی به یک توافق صلح در افغانستان تا اندازه یی با هم نزدیک شده اند؛ به ویژه اینکه اسامه بن لادن بعد از سال ها اختفا در ایبت آباد پاکستان کشته می شود و تشکیلات افغانی این گروه، در تشکیلات گروه طالبان منحل می گردد. حتا گزارش هایی نیز وجود دارد که اکنون القاعده در افغانستان به صورت مستقل دست به عملیات های نظامی می زند و گروه طالبان نیز به افراد خود خاطر نشان ساخته است، تا به صورت مجزا از تشکیلات القاعده به فعالیت های خود سروسامان بخشند.

به هر حال، هرچند این راهکار شورای امنیت می تواند، در روند مذاکرات کنونی که گفته می شود بین طالبان و امریکا در جریان است، کمک نماید و به عنوان یک پیشکش مثبت مورد ارزیابی قرار گیرد، اما این را نیز نباید فراموش کرد، میزان بی باوری ها و بی اعتمادی در این راستا گسترده است که با این حرکت ظاهرا تشویقی پایان نخواهد یافت، بلکه این راه نیازمند تلاش ها و تحرکات مثبت و زمینه ساز کارا و بیشتر هر دو طرف می باشد. تا زمانی که پایهٔ استوار اعتماد و باور مستحکم نگردد، بعید به نظر می رسد، روند گفتگوهای صلح به این زودی نتیجهٔ ثمربخشی ببانجامد.

## پیامدهای گزینش ایمن الظواهری برای جانشینی بن لادن



ایمن الظواهری که هم اکنون جانشین اسامه بن لادن شده و رهبری سازمان القاعده را به عهده گرفته است، برای مدت طولانی دومین فرد القاعده بعد از اسامه بن لادن بود.

او که داکتری از یک خانوادهٔ برجستهٔ مصری است، بیشتر به خاطر مهارت های سازمانی اش مشهور است، تا ویژه گی های الهام بخش شخصیتی.

به این ترتیب، از طرفی ممکن است، این نکته قابل توجه است که دموکراسی خواهی عامل عمده این تغییرات بوده و نه خشونت ها به سبک القاعده.

ایمن الظواهری تلاش کرده است که این خیزش ها را به فعالیت القاعده مرتبط بداند، اما موفقیت چندانی در این راه به دست نیاورده است.

خود این گروه نیز، از آغاز ایجاد آن تا کنون تغییراتی کرده است. اکنون القاعده بیشتر شامل مجموعه یی از شاخه های مرتبط به هم است، تا یک سازمان واحد متمرکز.

البته یک رشته بحث های جدی در مورد نقش رهبری بن لادن پیش از مرگش وجود داشت و برخی از تحلیلگران غربی بر القاعده به همان فعالیت معمول خود ادامه دهد. اما در ابعاد وسیعتر فعالیت القاعده، با انتصاب وی تغییرات چشمگیری به وجود آمده است.

آنچه خیزش جهان عرب توصیف شده و به سرنگونی رهبران مصر و تونس انجامیده است، موجی از ترس و بیم را برای حاکمان در سراسر شرق میانه به دنبال داشته است.

این نظر بودند که برخلاف برخی ارزیابی ها، او کنترول زیادی بر استراتیژی این گروه دارد. با این وصف، روشن نیست که ایمن الظواهری تا چه اندازه بتواند، نفوذ خود را بر این گروه حفظ کند.

اکنون عملیات القاعده در مناطقی چون یمن متمرکز شده، یعنی جایی در شبه جزیره عرب که القاعده خود آن را خطوط مقدم مبارزه علیه منافع غرب می داند. این گروه در آنجا رهبرانی چون انور العولقی دارد که نقش عمده یی بازی می کنند و اخیرا هدف حملهٔ ناموفق طیاره های بدون سرنشین امریکایی قرار گرفت.

اما آنچه دربارهٔ آن تردیدی نیست، عزم جدی ایمن الظواهری در دشمنی با امریکا و غرب است و تمایلش به انتقام گیری از مرگ بن لادن.

## په تېر یو کال کې د سولې عالي شورا څه کړې؟

که څه هم ځینې کتونکې په تیر یوه کال کې د سولې د عالي شورا کارونه نیمګړې بولي، خو د دې شورا چارواکي وایي، چې د پخلاینې د هڅو لپاره یې په هیواد کې دننه او بهر پراخ ملاتړ جلب کړی دی.

د سولې د عالي شورا مرستیال عطاالله لودین دې ته هیله مند چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه به وکولای شي، په افغانستان کې ملي یووالی ټینګ او د سولې امکانات برابر کړي.

د سولې د عالی شورا مرستیال وړاندې وایي: "هیله لرم چې تر ۲۰۱۴ کاله پورې زموږ پروسه پای ته ورسېږي، په هېواد کې سوله تامین شوي وي او بهرني ځواکونه له ملکه وتلي وي، ملي وحت تامین شوي وي او د راتلونکي نظام لپاره توافق ترسره شوي وي.

دافغانستان خلک به یو باثباته او د سولې لرونکی هیواد ولري. دا خبرې به نورې وي او دا داسې پروژه نه ده چې لس کاله به دوام کوي.

هغه غوښتنه چې په ۲۰۱۴ کال کې دې خارجي قوتونه له افغانستانه وځي دا به تکمیلېږي او دا لومړنی او جدي غوښتنه ده، چې دا شرط به پوره کېږي او سوله په منځ ته راځي."

د دې شورا په ویناوو کې نه یوازې په هیواد کې دننه په دېرشو ولایتونو کې د خپلو دفترونو په پرانیستلو سره هڅې ګړندی کړي، بلکې له هیواده بهېر په سیمه ایزه او نړیواله کچه د پراخ ملاتړ د جلبولو لپاره کار کوي.

خو کتونکي او په تېره بیا ځینې پخواني طالب چارواکي دا هڅې ځکه نیمګړې بولي، چې د دوی په وینا د دغو هڅو لپاره یو مشخص ادرس نه دی موجود.

د طالبانو د رژیم د بهرنیو چارو وزیر مولوي وکیل احمد متوکل وویل، چې د افغان دولت، نړیوالې ټولنې څخه بیلابیل هیوادونه اود مخالفینو جلا جلا کسان د سولې خبرې کوي، چې اغیز نه لري او د خپلو لوړیو سم استازیتوب نه شي کولای.

دا چې د ښاغلي متوکل په باور روانې هڅې د طالبانو لپاره د قناعت وړ دی که ځنګه، داسې یې ځوابوي:

"په داسې حال کې چې د افغانستان د دولت مشران په خپله هم له داسې حالت څخه رنج وړي او اظهارات کوي، نو طبعي خبره ده چې دوی هم په داسې یو دولت باندې باور نه کوي.

بناءً ضرور ده، چې دړې سره ښکېل اړخونه (طالبان، د افغانستان دولت او بهرني قوتونه)، د دغو جدي والی، د دغو ادرسونو تثبیت شي. نو زه فکر نه کوم چې طالبان په دغسې یوې شورا باندې باور ولري."

د ځانګړي ادرس مسئله په داسې حال کې مطرح کیږي، چې څه موده مخکې د طالبانو په استازیتوب د ملا منصور په نامه یو کس له افغان چارواکو سره خبرې وکړې، خو بیا معلومه شوه، چې دې په کوټه کې یوعادي دکاندار و.

خو د سولې د عالي شورا مرستیال ښاغلی لودین وایي، چې د همدې ستونزې د هوارې لپاره هڅې روانې دي، چې په یو هیواد کې وسله والو مخالفینو ته دفتر پرانیستل شي، څو له یو واحد ادرس سره خبرې وشي.

طالبانو ته د رسمي دفترونو پر ورکولو موافقه شوې:

"د مخالفینو ځینو مشرانو د مذاکراتو لپاره ځان ته یو مصون ځای غوښت، چې هغه مصون ځای زموږ لپاره ترکیه وه او دوی هم پرې موافقه وکړه.

خبره تقریباً نهایي شوې ده، چې دوی ته به هلته دفتر پرانیستل کیږي او خبرې به پیلیږي. دوی ته دفتر ورکړل شوی دی، خو رسماً کار یې نه دی پیل شوی او دا دفتر به زموږ د تفاهم او مذاکرې ځای وي."

مورد دلته داخلي او بهرني مشکلات لرو، د سولې په شوري کې داسې کسان شته چې د د سولې د شورا له اهدافو سره موافقه نه لري حتا مخالفت کوي.

له بل لورې یو شمیر نور کارپوهان په دې باور دي، چې په افغانستان کې له درېیو لسیزو څخه ډېره جګړه په لنډ وخت کې پای ته نه شي رسیدلی.

د کابل پوهنتون استاد ډاکټر فاروق بشر په داسې حال کې چې د سولې د روانو هڅو ملاتړ کوي، دا هم وایي، چې په هېواد کې د دایمي سولې د ټینګښت لپاره سیمه ییز او نړیوال ملاتړ ته د دې لپاره هم ډېره اړتیا ده؛ چې روانه جګړه نړیواله بڼه لري.

په افغانستان کې د پخلاینې لپاره د سیمه ییز او نړیوال ملاتړ په جلبولو دا ټینګار په داسې حال کې کیږي، چې وسلوال مخالفین بیا د خبرو د پیل لپاره ځینې مهم شرایط لري. د وسله والو مخالفینو یوه اساسي غوښتنه له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل دي، چې د ښاغلي لودین په وینا د امنیتي مسوولیتونو د انتقال بهیر له بشپړیدو سره به پوره شي.

دستراتیژیک تړون په اړه پرېکړه دوديزه جرګه کولای شي: "عنعنوي لویه جرګه راغوښتل شوې ده، ۳مخ

## افزایش فشارها بر اوباما برای کاهش ...

بوئنر، رییس مجلس نماینده گان امریکا نیز، از نحوهٔ انجام حملات هوایی امریکا علیه رژیم معمر قذافی انتقاد کرد.

اما هری رید از اقدامات نظامی تحت حمایت اوباما در لیبیا دفاع کرد. جمهوری خواهان در مجلس نماینده گان امریکا تهدید کرده‌اند که بودجهٔ عملیات‌های نظامی امریکا در لیبیا را کاهش دهند. هری رید در مورد افغانستان گفت که فکر می‌کند، دولت امریکا می‌تواند، سطح نیروهایش را در افغانستان به طور چشمگیر کاهش دهد.

روزنامه وال استریت ژورنال نیز گزارش داد: اردوی امریکا از اوباما خواسته است، تا سطح افزایش نیروها در افغانستان را تا خزان ۲۰۱۲ حفظ کند. با این حال هنوز هیچ یک از مقام‌های امریکایی در مورد این گزارش روزنامهٔ وال استریت ژورنال واکنش نشان نداده است. کاخ سفید اعلام کرده است که تصمیم برای کاهش سطح نیروهای امریکایی در افغانستان براساس شرایط در این کشور اتخاذ خواهد شد.

همچنین شبکهٔ سی. ان. ان در گزارشی اعلام کرد که یک گروه از شاروالان در امریکا خواستار پایان جنگ در عراق و افغانستان و تخصیص بودجهٔ این دو جنگ به مشکلات مردم در امریکا شد. این درخواست در کنفرانس سالانهٔ شاروالان امریکایی در بالتیمور مطرح شد. شاروالان امریکایی از دولت امریکا خواستند که با پایان دادن به این دو جنگ از هزینه‌های هنگفت نظامی و انسانی جنگ افغانستان و عراق جلوگیری می‌شود. در بیانیهٔ این شاروالان آمده است: شاروالان امریکایی از کنگرهٔ امریکا می‌خواهند، با پایان دادن به دو جنگ عراق و افغانستان، بودجهٔ مورد نیاز اشتغال زایی، بهبود شرایط معیشتی مردم، سرمایه گذاری در انرژی‌های تجدید پذیر و همچنین بازسازی تاسیسات زیر بنایی را تامین کند. در این درخواست عنوان شده است که امریکا سالانه ۱۲۶ میلیارد دالر برای حمایت از جنگ‌های افغانستان اختصاص می‌دهد.

## اعتماد به اسلام آباد نتیجه ...

منطقهٔ قبایلی دیرهٔ بالا در شمال غرب این کشور حمله کردند و ۲۳ نظامی پاکستانی را کشتند.

این در حالی است که مقام های افغان همواره عبور تندروان از مرز مشترک با پاکستان را رد کرده اند و اظهار داشته اند که تندروان از آن سوی سرحد داخل خاک افغانستان می شود و به عملیات خرابکارانه می پردازند.

در همین حال، یک مقام امنیتی کشور در ولایت ننگرهار دیروز ابراز داشت که نیروهای پاکستانی طی چند روز اخیر بر مناطق سرحدی در ولایت های ننگرهار و کنر چهار مرتبه حمله نموده اند. این مقام گفت، در نتیجهٔ تیراندازی نیروهای پاکستانی بر یک پوستهٔ نیروهای امنیتی افغان در ولسوالی گوشتهٔ ننگرهار یک پولیس افغان زخم برداشته است. قرار یک گزارش دیگر، والی ولایت کنر می گوید، در اثر حملهٔ نیروهای پاکستانی بر مناطقی از ولسوالی شیگل و سرکانی این ولایت در کنار به بار آوردن تلفات مالی، چهار کودک افغان کشته شده اند. به هر حال این حمله ها و ضد حمله ها در نوار مرزی بین افغانستان و پاکستان در حالی صورت می گیرد که رییس جمهور کرزی هفتهٔ گذشته در رأس یک هیأت بلندپایه، سفر دو روزه یی به اسلام آباد داشت و طی این سفر با مقام های بلندپایهٔ سیاسی، امنیتی و نظامی پاکستان پیرامون اوضاع جاری در منطقه و بهبود روابط دو کشور صحبت مفصلی داشت.

## سکوت پارلمان برای رییس جمهور بی ...

نیز اظهار داشت که اعتراض نماینده گان و سکوت آنان تا زمانی ادامه پیدا خواهد کرد که رییس جمهور وزرای باقی ماندهٔ را به پارلمان معرفی کند.فاطمه عزیز، نماینده مردم کندز در پارلمان نیز، این سخنان را تایید کرد و خواهان معرفی وزرای باقیمانده شد. سیما جوینده، عضو دیگر پارلمان نیز گفت که پارلمان در دور جدید دستاورد مهمی نداشته است، تا نظر مردم را به خود جلب کند. باید باقیمانده وزرا معرفی گردند، تا دادن رای اعتماد به وزرا دستاوردی از سوی پارلمان جدید برای مردم باشد. قابل ذکر است که پارلمان اخیرا در پی پایان مهلتی که به حکومت برای معرفی نامزد وزرا داده بود، اعلام کرد، تا زمانی‌که این فهرست در اختیار مجلس قرار نگیرد، جلسات خود را در سکوت برگزار می‌کند و هیچ مسأله‌یی را در دستور کار خود قرار نخواهد داد. سال گذشته ۱۱ تن از وزرای پیشنهادی کرزی از سوی پارلمان تأیید نشد و سرنوشت این وزارتخانه‌ها تاکنون نامعلوم و در دست سرپرست هاست. نماینده گان ادامهٔ پیشبرد امور این وزارتخانه‌ها را از سوی سرپرست ها خلاف قانون می دانند و خواهان معرفی هر چه زودتر وزرای جدید هستند.

## د بن راتلونکي غونډه او د افغان ...

کنفرانس د روان کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان تر مشری لاندې جوړ او افغانستان په کې خپلې طرحې وړاندې کړي. د افغانستان لپاره د بن لومړی کنفرانس د ۱۳۸۰ کال د لیندۍ په میاشت کې د طالبانو دواکمنۍ تر رنګېدو وروسته د نړیوالې ټولنې لخوا د امریکا د متحده ایالتونو په مشری جوړ شوی و. ولسمشر حامد کرزي پرون په کابل کې د ځوانانو ملي کنفرانس ته دوینا پر مهال وویل، چې لس کاله مخکې افغانانو د جرمني د بن په کنفرانس کې د متفرقو ډلو په توګه ګډون کړی و، خو دا ځل به د واحد دولت په توګه ګډون کوي. دده په وینا، داسې ګنګوسې شته، چې بهرنیان هڅه کوي بیا افغانان د بن په کنفرانس کې په متفرق ډول کېنوي او داسې حالت پرې تحمیل کړي، چې بهرنیان لس کاله نور په افغانستان کې خپل اس وځغلوي. کرزي وویل، چې بهرنیانو ته یې په څرګنده ویلي، چې په متفرق ډول د افغانان ګډون ورته د منلو وړ نه دی، خو بهرنیانیو ډاډ ورکړی، چې د افغانستان د حکومت له خوښې سره سم به کنفرانس جوړ پرې. ده د بن د جوړېدونکې غونډې او سولې د پروسې په اړه وویل: ((که مذاکره کامیابه شوه او طالبانو د بن په کنفرانس کې ګډون وکړ او وېې غوښتل چې د خپل وطن غېرې ته ورو ګرځي، د ددې وطن د اولاد په نامه او د افغان هیئت د برخې په توګه به هلته ګډون کوي.)) همدارازولسمشر کرزي یو ځل بیا روان کال د افغانستان لپاره مهم او حساس کال وباله او زیاته یې کړه، چې که چېرې افغانان په دې کال کې په تدبیر، جرئت او ملي یوالي سره عمل وکړي، نو ګټونکي به وي. هغه په افغانستان کې له مېشتو بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د مسوولیتونو د لېږد پروسه، له مخالفینو سره د سولې مذاکرات، له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو ترون او همداراز په بن کې د افغانستان په اړه جوړېدونکی کنفرانس ددې کال مهم مسایل وبلل، چې په اړه به یې پرېکړې وشي. په دې توګه باید وویل شي، چې که چېرې د بن کنفرانس ته په متفرق ډول افغانان وروبلل شي او بیا هم لکه د بن د لومړي ځل غونډې په شان په افغانستان باید یو ډول حالت ور وټپل شي، نو ښایي د افغانستان لپاره ډېرې ناوړې پایلې ولري، ځکه افغانستان اوسمهال له هره اړخه له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخ دی او که چېرې د افغان ولس د ستونزو، غوښتونو او هیلو پر بنسټ او د ټولو غاړو په پوره همغږۍ سره د دې هېواد په اړه پرېکړه ونه شي، نو دا هېواد به تر اوسنیو تاوتریخوالو زیات د نورو نویو او تازه تاوتریخوالو شاهد هم وي او بیا به دا هېواد په داسې یوه معضله کې راګېر وي، چې نه به یې نړیواله ټولنه او نه هم امریکا او متحدان یې له داوړ حالته را ایستلی شي. نو اړینه ده، چې د بن راتلونکي کنفرانس ته وړاندې ولس په خوښه کسان ولېږل شي، داسې کسان چې د افغانستان له برخلیک سره لوبې ونه کړي او نه هم د افغانستان پر ولس ملنډې ووهي، بلکې داسې کسان وي، چې د افغانستان برخلیک په مثبت پلو بوځي او د دې هېواد په اړه داسې طرحې وړاندیز کړي، چې دا هېواد له روان بحران څخه وژغوري او د پرمختیا او سوکالۍ لاره ورته پرانېزي. **(نسیم بریال)**

## د کابل په زړه کې پر لومړۍ امنیتي حوزې ...

د کورنیو چارو وزارت د مطبوعاتي دفتر له خوا خپره شوه، راغلي دي، د ږیو ځانمرګو برید کوونکو، چې وسلې او د چاودېدونکو توکو ډک واسکټونه یې له ځان سره درلودل، د کابل پر مستوفیت او د پولیسو پر لومړۍ امنیتي حوزې برید وکړ.

سرچینه وایي، چې د هغوی یو تن خپل ځان د لومړۍ حوزې مخ ته وچاوه، چې په پایله کې د ږې پولیس، د ملي امنیت یو کارکوونکی او پنځه ملکي کسان ووژل شول او دوه پولیس او ۱۰ ملکي کسان ټپیان شول.

په خبرپانه کې زیاته شوې ده، چې دوه نور برید کوونکي له پولیسو سره په نښته کې ووژل شول.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، د برید کوونکو هویت تراوسه نه دی څرګند شوی او د هغوی د پېژندګلوی په موخه ځېرنې پیل شوې دي.

د پڑواک خبریال له سیمې څخه راپور ورکړی و، چې د یوه ځانمرګي مړی، چې کابو ۲۵ کاله عمر یې درلود او پوځي یونیفورم یې پر تن و، د امنیتي حوزې له دروازې څخه راوایستل شو، چې یوه مرمۍ یې په ستر ګه لګېدلې او ږیره یې خریلې وه.

دا په داسې حال کې ده، چې مخکې له دې د کابل ښار امنیه قوماندان لوی پاسوال محمد ایوب سالنګي د پېښې په سیمه کې وویل، دوه برید کوونکي چې پوځي یونیفورم یې پر ځان و، له دوو کلاشینکوفونو او یوه راکټ سره لومړۍ امنیتي حوزې ته دننه شول.

هغه زیاته کړه، چې دواړه برید کوونکي د پولیسو له لوري ووژل شول او نښته پرون له غرمې وروسته په درېیو بجو پای ته ورسېده.

وسلوالو طالبانو د دې برید مسوولیت پر غاړه اخیستی او وایي، چې د ږیو ځانمرګو برید کوونکو پر لومړۍ امنیتي حوزې برید کړی او څو پولیس یې وژلي دي.

خو بل خوا په دې وروستیو کې په هېواد کې ډېر بدونکو ناامنیو او تاوتریخوالو د ګڼ شمېر هېوادالو اندېښنې راپاروليو او ډېرې شمېر خلک پر دې باور نه لري، چې ګواکې ژوند یې له خطرونو سره مخ نه دی او د همدې وېرې او اندېښنو په جال کې شپې او ورځې تېروي.

## په تېر یو کال کې د سولې عالي شورا ...

دا جرګه به په پنځو یا شپږو میاشتو کې خپله لومړنۍ غونډه کوي، له دې وروسته به دا مسئله پارلمان ته ځي.

په دې وخت کې به مور په دې توانیدلي یو، چې د دولت له مخالفینو سره په به په ډېرو مسایلو بحث وکړو، نو کله چې بیا مور له دوی سره د مذاکرې مېز ته کېښینو په همدغې موضوعاتو کې به هم مور د دوی نظریات اخلو.

د سولې تر راوستو مخکې داسې شرطونه اېښودل کیږي چې هغه د سولې په نامه نه دي او د سولې تر عنوان لاندې یې نه شو بللی.

تر دې دمه به له مخالفینو سره خبرې تر یوه حده رسیدلي وي، چې مور به یو ادرس پیدا کړی وي او دوی به له مور سره د مذاکرې مېز ته ناست واوسي او له هغوی نه به دا غوښتنه کیږي چې په دې جرګې کې ګډون وکړي."

د سولې عالی شوراد ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کې د سولې د ملي مشورتي جرګې په سپارښتنه جوړه شوه، چې په کې د نهو میرمنو په ګډون اوویا تنه غړي لري.

د دې شوراد جوړښت په اړه پورته شوې پوښتنې بله مسئله ده، چې تر ډېره یې خلک د دوی په کارونو بې باوره کړي.

عام خلک د دې شوراد کارونو په اړه شکونود پورته کېدو یو اساسي علت د هغې په جوړښت کې په جګړه کې د بنکیلو کسانو موجودیت بولي.

**په افغانستان کې سوله راوستل ممکنه ده؟**

نو کله چې دوه ډلې سولې ته کېنول کیږي، در ېیم کس باید داسې یو څوک وي، چې هغه له دواړو خواوو سره ښې اړیکې ولري. نو زما په خیال په داسې حالاتو کې په افغانستان کې د سولې راوستل او ټینګول ناممکنه خبره وي.

۲ – د سولې تر راوستو مخکې داسې شرطونه اېښودل کیږي چې هغه د سولې په نامه نه دي او د سولې تر عنوان لاندې یې نه شو بللی.

کوم شرایط چې کېښودل کیږي، در ېمګړی یې باید په دواړو لورو عملي کړي، چې باید واړه مساوي وساتل شي.

یوه پروسه ده، خو د سولې د راوستلو لپاره اغیزمنه نه ده، چې هېڅ یې نه دي کړي او هېڅ به هم ونه کړای شي.

۳ – صدیق الله: که چېرې له یوې خوا د دولت له مخالفینو سره خبرې کیږي، خو له بلې خوا دوی چې په خپله په دولت کې موجودیت لري د دې مخالفت کوي. نو لومړی باید په دولت کې دننه باید په دې جوړ راشي، چې له مخالفینو سره سوله و کړي، نو دا سوله له لومړی سره نه نیمګړې ده، ځکه چې دوی په خپلو منځو کې سره جوړ نه دي."

خو د شورا یو شمیر غړي په دې نظر دي، چې په شورا کې د هرې مخالفې ډلې او ګوند غړی شته چې په ښه ډول کولای شي، د خپلو نورو مخالفو سره خبرو ته کښینې او هغوی سوله ییزو ژوند ته وهڅوي.

مخالفین باید په مور ډېر باور وکړي، مخالف ماته راغلی، ما ته یې ویلي چې زه تاسره کښېنم، له ما سره د یوې پیاوړې ډلې، پیاوړی طالب ناست دی، د خپلې خور په شان یې راسره خبرې کړي او راته یې ویلي، چې ما مه افشا کوه.

ARADA

# ادامهٔ حملات ناتو به خاک پاکستان و ابراز نگرانی جدید اسلام آباد

یاسر احمدزی



در پی حملهٔ هوایی جدید ناتو به یکی از مقرهای اردوی پاکستان در شمال شرق این کشور، منجر به تیره گی روابط بین اسلام آباد و واشنگتن شده است و اسلام آباد بار دیگر نگرانی جدی خود را در مورد اقدامات ناتو به سفارت امریکا ابلاغ کرد.

وزارت خارجهٔ پاکستان دیروز اعلام کرد که یک طیارهٔ ناتو در خاک پاکستان اقدام نظامی انجام داده و به یک مقر نظامی حمله کرده است.

این در حالی است که بعد از به قتل رسیدن اسامه بن لادن رهبر شبکهٔ القاعده در خاک پاکستان به وسیلهٔ عملیات نیروهای ویژهٔ امریکایی در نزدیکی اسلام آباد، روابط اسلام آباد و واشنگتن به تیره گی گرایید و اسلام آباد اعلام داشت، روابط استخباراتی اش را با امریکا محدود می سازد.

وزارت خارجهٔ پاکستان در این بیانیه نگرانی جدی خود را در این خصوص به سفارت امریکا اعلام کرده است.

در این بیانیه آمده است: لازم است، یک بررسی مشترک در مورد این حمله انجام شود.

مقام‌های منطقهٔ مهمند که هدف این حمله قرار گرفته، ضمن تایید این حمله اعلام کردند که طیارهٔ ناتو چند بم به سمت منطقه پرتاب کرده که تلفاتی در برنداشته است.

به گزارش خبرگزاری رویترز، پاکستان نقش یک کشور مهم را برای امریکا در جنگ علیه تروریزم ایفا می‌کند، اما روابط دو کشور اخیرا پر تنش شده است.

اسلام آباد پیشتر از حمله نیروهای امریکایی به محل اختفای اسامه بن لادن، رهبر القاعده در خاک پاکستان ابراز نگرانی کرده بود. پاکستان همچنین گزارش‌ها در مورد اینکه نیروهای امنیتی این کشور شبه نظامیان را در جریان حملات ناتو در مناطق قبایلی گذاشته‌اند رد کرد.

اردوی پاکستان در این بیانیه گفت: اتهام‌ها علیه پاکستان بی پایه و اساس است.

پیشتر گزارشی در مورد اینکه نیروهای امنیتی پاکستان شبه نظامیان مشغول به کار در مراکز ساخت بم را در جریان حملات ناتو قرار می‌دهد، منتشر شده بود. اردوی پاکستان اعلام کرد که اطلاعاتی مبنی بر وجود چهار کارخانهٔ ساخت بم در وزیرستان بدست آورده است.

اردوی پاکستان اعلام کرد: دو کارخانه از این چهار کارخانه منهدم شده و اطلاعات در مورد دو کارخانه دیگر نادرست است. چند تن در این رابطه دستگیر شده و بازجویی از آنها در جریان است.

به هر حال، چنین به نظر می رسد، با وجود تهدیدها و ابراز نگرانی های مکرر اسلام آباد در مورد حملات طیاره با سرنشین و بدون سرنشین ناتو در خاک پاکستان، ناتو همچنان به حملاتش در داخل خاک پاکستان ادامه داده و بعد از کشته شدن اسامه بن لادن، یک قوماندان بلندپایهٔ دیگر القاعده الیاس کشمیری نیز، در همچو حملات کشته در وزیرستان شمالی کشته شد.

این حملات این مسأله را وانمود می سازد که پاکستان یا توانایی توقف این حملات را ندارد و یا هم در پشت پرده با آن در تبانی قرار دارد و اظهار نظرهای مقام های پاکستانی یی که از طریق رسانه ها صورت می گیرد، تنها به خاطر فریب افکار عامه صورت می گیرد.

# روسیې په افغانستان کې د خپل نفوذ د پراختیا هڅې ګړندۍ کړې

په افغانستان کې د روسیې سفیر د جمعې په ورځ وویل، چې هېواد یې غواړي په افغانستان کې خپل حضور پراخ کړي او د دغه هېواد په بیارغونه کې زیاته برخه واخلي.

د روسیې سفیر، پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد یرغل ته په اشاره وویل چې په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان او روسیې اړیکې هېڅکله دومره نژدې او تودې نه وې.

د هغه څرګندونې د افغانستان د حکومت لپاره د مستقل توب لوی امتیاز ګڼل کېږي چې د امریکا د یوه سیال په توګه دا خبرې کوي او په عین حال کې ایران، چې ځان ته د امریکا لوی دښمن وایي له افغانستان سره پر نښو اړیکو ویاړي.

روسیې له دې سره سره چې افغانستان ته د ناټو ترمشرۍ لاندې ځواکونو د ملاتړ لپاره د سرتېرو له لېږلو انکار کړی د پخواني شوروي اتحاد تر نفوذ لاندې هېوادونو کې خپل نفوذ او زور نښکاروي، ځکه چې دا هیواد دا سیمه په تېره بیا منځنۍ اسیا خپله تر نفوذ لاندې سیمه بولي.

په کابل کې د روسیې سفیر اندرې ایرتیسیان رویټرز خبري اژانس ته په مرکه کې وویل: «فکر کوم زمونږ اړیکې په شلو کلونو کې تر ټولو په لوړه کچه کې دي، او لا هم پسې پراخېږي... خوزه غواړم چې تر دې هم زیاتې پراخې شي.

پخوانی شوروي اتحاد پر ۱۹۸۹ پر افغانستان تر یرغل مخکې له امریکا سره په سیالۍ کې په افغانستان کې ځینې ډېرې مهمې پروژې لکه د برېښنا بندونه جوړ کوي وو چې اوس روسیه پرې ویاړي.

د روسیې او افغانستان د اړیکو د لا ټینګښت لپاره د افغانستان د مالیې وزیر عمر زاخېلوال حاضر دمه مسکو ته په دولس ورځني سفر تللی دی. دی به د دې سفر په ترڅ کې د روسیې د ولسمشر دیمتري مېدویدیف په شمول له ګڼو روسي چارواکو سره وویني.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د پنجشنبې په ورځ د قزاقستان په پلازمېنه استانې کې د سوداګري اړیکو د پراختیا لپاره د مسکو او کابل د موافقې هرکلې وکړ.

کرزي د شانګهای ټرون د غونډې په څنګ کې مېدویدیف ته وویل چې له روسیې سره د افغانستان د اړیکو پر پراختیا خوشحاله دی.

د روسیې سفیر اندرې ایرتیسیان، چې په ۱۹۸۰ یمه لسیزه کې یې په کابل کې د شوروي اتحاد په سفارت کې کار کړی دی او په پښتو او دري ژبو هم پوره پوهېږي، وایي: «هغه هیواد چې اقتصاد یې فعال وي او خلک یې کار ولري له لږ خطر سره مخامخ وي.»

ده وویل چې روسیه د دوو وېرو له کبله په افغانستان کې د سولې او ثبات غوښتونکې ده، یو د نشه یي توکو او بل تروریزم.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده هفدهم: ۵– اعضاء کمیته برای مدت ۴ سال انتخاب می شوند و در صورتی که مجدداً نامزد شوند، تجدید انتخاب آنها مجاز خواهد بود. لیکن مدت زمان پنج عضو کمیته منتخب در اولین انتخابات در پایان ۲ سال منقضی می شود. نام این ۵ عضو پس از اولین دوره انتخابات با قید قرعه و به وسیله رییس جلسه مذکور، بنابر بند ۳ این ماده معین می گردد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com